# ډېره اسماعيل خان؛ بهته خورو خوارجو يو ځل بيا پر بې ګناه خلكو بريدونه كړي

د ترقۍ او سوكالۍ دښمنانو خوارجو نن ډېره اسماعيل خان (كوټ پالک) ته څېرمه د ګيس د يوې خصوصي شركت پر كاركوونكو هغه مهال بريد وكړ، چې د ګيس څاه ته په لاره وو. امنيتي ځواكونو پر وخت اقدام كولو سره بريد شنډ كړ- د ډزو په تبادله كې څو تنه خوارجان شهيدان شول او د شركت دوه تنه بې ګناه د كمپنۍ مامورين شهيدان شوي-

**د سرچينو په وينا، د شركت چارواكو ته د ټي ټي پي لخوا دبهتې اخيستو لپاره ګواښونكي پيغامونه ترلاسه شوي وو- خو خوارج د بهتې د نه وركولو له امله هغه بې ګناه ښاريان په نښه كړل چې حلال روزي يې ګټله چې دا د دوی د ولس ضد او تش په نامه جهاد ښكاره ثبوت دی-**

**په قبايلي ضلعو كې د تعمير او پرمختګ لړۍ روانه ده چې له امله يې د پاكستان د ابدي دښمنانو خوب حرام دی او د تحريک طالبان پاكستان خوارج د خپلو وسيلو په توګه د بې ګناه خلكو په نښه كولو سره د پرمختګ په لاره كې د خنډ اچولو هڅې كوي-**

ټوله نړۍ له پښتنو سره د ټي ټي پي له دښمنۍ او شرعي قانون سره په ملنډو خبره ده، ځكه چې د قبايلي ضلعو په ګډون په خيبر پښتونخوا كې قانون تر ټولو لوړ دی او ټي ټي پي ته د پښې ځای نه ميلاوېږي، د بهرنيو بادارانو د فشار له وجه ووس د دروغو تبليغاتو ته اړ شوي دي-